AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۰۹/۳۰
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

اوومه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه میرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه يي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما يي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## شپږم فصل

### پښتونستان ۲: زهر د دوستی په خُم کي

په کابل کي د امریکا سفیر بایروډ Byroade او په کراچي کي رونټري Rountree دواړه تجربه کار ډیپلوماټان او د امریکا په بیروکراسي کي روزل سوي کسان وه. بایروډ ټینګار کاوه چي رونټري دي پر پاکستان باندي فشار واچوي چي خپل دریځ یو څه نرم کړي. رونټري پر دي نظر باندي اعتراض کاوه او استدلال يي کاوه چي پاکستان د امریکا لپاره یو ارزښمنن متحد دی او متحده ایالاتو پر هند باندي د چین د حملي په وخت کي، پر ایوب باندي د بېطرف پاته کېدلو لپاره ډېر زیات فشار واچاوه؛ او نور فشار به د کټي پر ځاي تاوان ورسوي. د بایروډ او رونټري اختلافات داسي سرحد ته ورسېدی چي یو وخت دواړه واشنګټن ته وبلل سول چي د خارجه وزیر او د هغه د سلاکارانو په مخ کي مخامخ استدلال سره وکړي. د بایروډ استدلال زیاتره قانع کونکی وو مګر د رونټري په استدلال کي د امریکا ستراتیژیک منافع نغښتي وه او په لوړه سطح دا فیصله وسوه چي پر پاکستان باندي نور فشار وانه چول سي.
د مرچنټ د ماموریت د ناکامی په نتیجه کي، بایروډ سردار نعیم ته خبر ورکړ چي امریکا ښایي خپلي ځیني مرستي، په زیاته د کابل کندهار د سړک جوړولو له پروژې سره، کمي کړي. سردار نعیم په جواب کي ورته وویل چي د دغه اقدام تر شا باید سیاسي اهداف پراته وي او معنی به يي داوي چي پر موږ باندي د پاکستان فشار زیات سي؛ او په جواب کي يي ورته وویل چي کېدلای سي د دي پروژې لپاره ضروري مواد د فارس د خلیج له لاري د ایران په خاوره کي افغانستان ته انتقال سي. بایروډ په جواب کي ورته وویل چي له لومړنیو پلټنو څخه معلومه سوې ده چي د ایران له لاري د مواداو رسول بې اندازې ګران پرېوزي. سره له هغه هم، متحده ایالاتو، د بایروډ د پیشنهاد په اساس، د ایران د لاري امکانات وسنجول. د ایران له لاري د دي مواداو د انتقال لپاره باید لومړی د هرات او مشهد ترمنځ سړک جوړ سوی وای؛ بیا نو تر زاهدان پوري مواد په اورګاډي کي انتقال سوي وای او په وروسته کي نو په الوتکو کي کندهار ته رسول سوي وای. کله چي د دي پروژې قیمت وسنجول سو نو معلومه سوه چي د هر ټن مواداو پر انتقال باندي، د پاکستان تر لاري، سل ډالره زیات وربانديل لګیږي. او کانګرئیس ته به په دي لګښتونو قناعت ورکول ګران وي، ځکه چي د سرحدونو د بندولو مسوولیت پخپله د افغانستان په غاړه وو. پاکستان، تش په نامه، د ۱۹۵۹ کال ترانزیټ موافقتنامه، چي د متحده ایالاتو په ملاتړ تر لاسه سوې وه، رعایت کوله؛ ځکه چي هغه هیواد یوازي د افغانستان د کونسلګریو او تجارتي نمایندګیو له پرانیستل کېدلو سره مخالفت کړی وو.
د ۱۹۶۱ کال تر پایه پوري دا معلومه سوه چي د ایران لاره به ستونزه حل نه کړي. د ډسمبر په میاشت کي بایروډ له کابل څخه واشنګټن ته تبدیل سو. ده د ډسمبر پر دېرشمه، د داوود خان او سردار نعیم سره د خدای په اماني لیدنه وکړه. بایروډ ته په کابل کي ډېر زیات درناوی موجود وو او د افغانستان له مشرانو سره يي دوستانه اړیکي درلودل. سردار نعیم ورته وویل چي اوس نو په دي وروستي وخت کي ستا لپاره څه کولای سو چي هغه ستا له خدمتونو څخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د منني معنی ولري. بایروډ سمدستي ورته وویل چې که پر هغو سامانونو باندي تعزیرات اسانه کړی چې د امریکا پرژو ته ته روان دي زه به خوشاله یم. سردار نعیم ومسل او ورته وې ویل چې ته په دغه وخت کې د پښتنو د مېلمه پالني څخه ګټه اخلي او موافقه یې وکړه چې په موقتي توګه به د هغو سامانونو په برخه کې اسانتیاوي برابري کړو چې د کراچي په بندر کې پراته دي. په کابل کې د امریکا نوي سفیر ستیفز Steeves او په کراچي کې میکوناګي McConaughy دواړو کوښښ وکړ چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې بهتري راولي مګر چنداني نتیجې یې ترلاسه نه کړې.

جمهور رئیس کینیډي په ۱۹۶۲ کال کې د ملګرو ملتونو د اجلاس په ترڅ کې مستقیم کوښښ وکړ او ایوب او سردار نعیم یې متحده ایالاتو ته راوبلل. کینیډي د سپتمبر پر څلېرویشتمه او او اووه ویشتمه له ایوب څخه وغوښتل چې د افغانستان د کونسلګریو په بیرته پرانیستلو کې له نرمښت څخه کار واخلي او سردار نعیم ته یې وویل چې متحده ایالات نه سي کولای د افغانستان له خوا د خپلو سرحدونو د تړلو له پالیسی څخه، چې پخپله هیڅ دلیل نه ورته لري، دفاع وکړي. جمهور رئیس کینیډي له ایوب او نعیم څخه وغوښتل چې د ایران د پاچا د منځګړتوب له کوښښونو سره مرسته وکړي. په نتیجه کې سردار نعیم، د ایران خارجه وزیر عباس آرام او د پاکستان صدراعظم محمد علي په ملګرو ملتونو کې سره وکتل او په نتیجه کې یوه د روغي جوړي مشترکه اعلامیه ولیکل سوه. دواړو خواوو څو میاشتي هغي موافقتنامي ته د رسمي شکل ورکولو لپاره چنې سره ووهلې.

د پاکستان او افغانستان ترمنځ جنجال یو څه کرار سو. ایوب مارشال لا ختمه کړه او د توندرو منظور قادر پر ځای یې محمدعلي بوګرا د خارجه وزیر په حیث مقرر کړ، چې له افغانستان سره د روغي جوړي کولو طرفدار وو. د ۱۹۶۲ کال د جولای په میاشت کې، چې د ایران شاه پاکستان ته سفر وکړ نو پیشنهاد یې وکړ چې دی به پخپله یو څه کوښښ وکړي. ایوب یو څه نرمښت وښود او شاه کابل ته ولاړ. هلته یې له داوود خان سره، چې پر خپله خبره ټینګ ولاړ وو، وکتل مګر د یوې ممکني موافقتنامي متن یې ترتیب کړ. کله چې بیرته پاکستان ته ولاړ نو ایوب یو څه چنې ورسره ووهلې او شاه دواړو خواوو ته پیشنهاد وکړ چې خپل هیاتونه په تهران کې د خبرو کولو لپاره وټاکي. دې کار یو څه وخت ونیوی او دواړو خواوو خپل دلایل ویل. په دغو خبرو کې د ایران خارجه وزیر عباس آرام منځګړی وو.

ضمنا د افغانستان اقتصادي وضع نوره د زغملو نه وه؛ او شاهي کورنۍ ته معلومه سوه چې د حل په لاره کې تر ټولو لوی خنډ، داوود خان دی. د ۱۹۶۳ کال د مارچ پر نهمه، پاچا له هغه څخه د استعفی غوښتنه وکړه. د هغه پرځای باندي د عادي اصل او نسب خاوند او یو غیر پښتون محمدیوسف صدراعظم سو. دې تغییر او تبدیل د موضوع حل ته لاره هواره کړه. وروستنۍ جټکه د اپرېل پر دېرشمه په کراچي کې د سینټو CENTO په غونډه کې ورکړه سوه او د امریکا مقاماتو د ایران له خارجه وزیر آرام، او ایوب او بهوټو څخه وغوښتل چې مخته راسي. افغانستان یو هیات تهران ته واستاوه او د ایران شاه پخپله منځګړتوب ته حاضر سو. تر ټولو سختو چنو وهلو وروسته، د مې پر نهه ویشتمه وروستنۍ موافقتنامه لاسلیک سوه. دواړو خواوو موافقه وکړه چې ډیپلوماټیک اړیکي له سره ونیسي. افغانستان د پښتونستان لپاره د سوله ایزو لمسونو له حق څخه تېر نه سو مګر دا یې ومنله چې دواړه خواوي باید یوه بنه تفاهم ته سره ورسیږي او دوستانه اړیکو او دوه اړخیز باور ایجادولو ته لاره هواره کړي.

افغانستان، د ایران له موافقي څخه سمدستي وروسته، محمدهاشم میوندوال، پاکستان ته د سفیر په حیث واستاوه او پاکستان هم جنرال محمد یوسف په کابل کې سفیرمقرر کړ. د جولای په میاشت کې دواړو خواوو د خپلو کونسلګریو او تجارتي نمایندګیو بیرته پرانیستل اعلان کړل. د دې جنجال په حلېدلو کې زیاتره د افغانستان شرایط ومنل سول. البته دا یو وړوکی بری ووځکه چې د پښتونستان د مسلې له امله داوود خان سقوط کړی وو او افغانستان ته د پیسو او د پروژو د ځنډېدلو له امله ډېر زیات تاوان رسېدلی وو. پر دې برسېره د دې اختلافاتو له امله د امریکا د مرستو پروګرامونه ډېر زیات ځنډېدلي وه او د شوروي د اقتصادي او سیاسي نفوذ لپاره یې خاصه زمینه برابره کړې وه.

د داوود خان له سقوط سره په افغانستان کې د اساسي قانون په اساس اصلاحاتو او د ډیموکراسی د تجربې لسیزه پیل سوه.

پارلمان وخت په وخت، د افغانستان حکومت د پښتونستان د مسلې د هېرولو له امله غانده. د مثال په ډول د ۱۹۶۸ کال د مي په میاشت کي اولسي جرګې له صدراعظم اعتمادي څخه ډېري سختي پوښتني وکړې او هغه یې د پښتنو په خرڅولو تورن کړ. مګر په عمومي صورت، د افغانستان حکومت، په دغه مسله کې، کرار وو او د پښتونستان لپاره یې، د راډیو او مطبوعاتو له لارې، په نرمو تبلیغاتو قناعت کاوه. د دې ستونزي د حلولو لپاره د امریکا کوښښونه هم پاي ته ورسېده که څه هم چې ډیپلوماتان به د پردې شا لګیاوه او په نتیجه کې د افغانستان او پاکستان مشرانو څو د لوړي سطحي غونډې سره وکړې مګر چنداني نتیجه یې ترلاسه نه کړه. دا اختلاف ختم نه وو، خو یوازې خاموش وو.

دا وضع په ۱۹۷۳ کال کې هغه وخت تغییر سوه چې داوود خان د یوې تقریباً سپیني کودتا له لارې قدرت ونیوی. ظاهرشاه یې برطرف کړ او جمهوري نظام یې تاسیس کړ. ډیموکراټیک اساسي قانون یې لغو کړ او ځان یې جمهور رئیس اعلان کړ. بنګله دېش تازه له پاکستان څخه خپلواکي اخیستې وه او داوود خان په دې عقیده وو چې پاکستان د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تجزیه کېدلو په حال کي دی. ده داسي حساب کړی وو چي په شمال لوېځه صوبه کي به د پښتنو د استقلال غوښتنه بیرته تازه کړي او دې ته تیاروو چي د پاکستان له کمزوری څخه ګټه واخلي. ده یو ځل بیا د پښتونستان مسله توده کړه.
خو پاکستان تجزیه نه سو او د ذوالفقار علي بهټو ملکي حکومت غوښتل چي د پښتونستان مسله د تل لپاره حل کړي. داوود خان هم د خپل سیاسي تبعید په لسو کالو کي خپل دریځ نرم کړی وو. اوس چي بیا قدرت ته رسېدلی وو نو ویې لیدل چي روسانو یې په بشپړه توګه هیواد په منګولو کي نیولی دی. که څه هم چي داوود خان قدرت د افغان کمونیسټانو په مرسته نیولی وو مګر دی پخپله یو افغان نېشنلیسټ وو. دی په دې پوه سو چي افغان کمونیسټان وطن پالونکي نه بلکه د ماسکو مخلوق او د لاس آله دي. ده د کمونیسټانو له ملاتړ څخه د ځان د خلاصولو او له اسلامي هیوادونو د ملاتړ د ترلاسه کولو کوښښونو ته ملا وتړله. ایران د ده هلو ځلو ته په سخاوت جواب ورکړ او بهټو هم کوښښ وکړ چي له فرصت څخه ګټه واخلي او له افغانستان سره اړیکي بهتر کړي.
بهټو د ۱۹۷۶ کال د جون په میاشت کي، د افغانستان له زلزله ځپلو سره د مرستي کولو په پلمه، کابل ته سفر وکړ. ده له داوود خان سره ډېري سپیني خبري وکړې او یو ځل یې د پښتونستان په قضیه کي د افغانستان د حکومت سره هم خبرو ته غوږ ونیوی. ده او داوود خان ښې خبري سره وکړې او موافقه یې وکړه چي سوله ایزو خبرو ته دوام ورکړي. بهټو داوود خان ته بلنه ورکړه چي پاکستان ته سفر وکړي او داوود خان هم د اګسټ په میاشت کي پاکستان ته ولاړی. په پاکستان کي د ده ښه هرکلی وسو او دا د دواړو هیوادونو په اړیکو کي یوه نوې خبره وه.
داوود خان بهټو ته د رسمي خبرو په ترڅ کي وویل چي افغانستان د پاکستان له خاوري څخه هیڅ ټوټه نه غواړي او نه د پاکستان د اتباعو په ژوند کي مداخله کوي. افغانستان یوازي دونه غواړي چي له پښتنو سره دي تبعیض نه کیږي او له نورو غیر پښتنو سره دي یو شان سلوک ورسره وسي. که پښتانه خوشاله وي افغانستان به هم خوشاله وي. بهټو د هغه له دې دریځ څخه بشپړ رضاییت څرګند کړ او ژمنه یې وکړه چي د خپلو پښتنو اتباعو د خوشالولو لپاره به جلا پروګرام طرح کړي.
دواړو مشرانو د دې غونډي په پای کي کومه موافقتنامه لاسلیک نه کړه. دوی فیصله وکړه چي د پاکستان نویو انتخاباتو ته، چي نیژدې راتلونکي وه، انتظار وباسي. کله چي یو ځل بهټو، لکه هر چا چي یې انتظار درلود، په قدرت کي ښه ټینګ سي نو د دواړو هیوادونو له اړیکو څخه به د پښتونستان زهر لیري سي. مګر قسمت یو ځل بیا مداخله وکړه. بهټو د جنرال ضیاءالحق په پوځي کودتا کي له قدرته وپرزول سو. د غبن کولو او سیاسی قتل تور وربانديي ولګېدی او بالاخره غرغره سو. داوود خان هم د کمونیسټانو د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په کودتا کي را وپرزول سو او ووژل سو. په ۱۹۷۹ کال کي شورویانو پر افغانستان باندي یرغل وکړ او د پښتونستان مسله یې تر ډېره ځایه خاموشه کړه مګر مړه په هیڅ صورت نه سوه. شورویانو د پښتونستان له مسلې څخه د پاکستان د تهدیدولو لپاره، چي د څه باندي دریو میلیونو مهاجرو، چي اکثریت یې پښتانه وه مخامخ وو، کار اخیست. د پښتونستان مسلې اوس هم د دواړو هیودونو لپاره سخت او نا معلوم نتایج درلودلای سوای.
دا نه ده معلومه چي متحده ایالاتود داوود خان او بهټو ترمنځ د پخلاینې په برخه کي څه رول ولوباوه. ځیني څارونکي په دې عقیده دي چي دا ټول د متحده ایالاتو کار وو او د داوود خان د پرزېدلو او د کمونیسټانو له خوا د هغه د قتلېدلو اصلي علت د شورویانو دا وېره وه چي هسي نه متحده ایالات له داوود خان او د ایران له شاه سره داسي دسیسه وکړي چي افغانستان د متحده ایالاتو په اډه تبدیل کړي. په داسي حال کي چي په دې تحلیل کي د امریکا د رول په باب مبالغه سوې ده مګر دا خبره ښایي پر ځای وي چي امریکا د ایران شاه دې ته هڅولی وي چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پخلاینې کوښښ وکړي.
که داسي وي هم، په خلاصه توګه ویلای سو چي د پښتونستان د مسلې د حلولو په برخه کي د متحده ایالاتو مستقیم رول چنداني اغېز من نه وو. د دې علتونه سم څرګند نه دي. د امریکا عالي رتبه مقاماتو، حتی د جمهوررئیس تر سطحي پوري، څو ځله کوښښ وکړ چي د پاکستان او افغانستان په اړیکو کي بهتري راولي. دوی ریښتوني کوښښونه وکړل مګر بریالي نه سول او علت یې دا وو چي دوی د دې مسلې په پېچلتیا نه پوهېدل او فکر یې کاوه چي افغانستان په خپل دریځ کي سرټمبه ګي کوي. د ډېرو امریکایانو په نظر د پښتونستان مسله ډېره ساده ورتلله او فکر یې کاوه چي دا یوازي د خاوري موضوع ده. دوی ته به چي افغانانو د پښتونستان په باره کي خبري کولې نو دوی به هغه مبهمي او تکراري بللې. د دوی لپاره دا ستونزه هم سِری او هم مصنوعي ښکارېده او هغې ته یې دونه ارزښت نه ورکاوه چي ځانونه یې په پېچلتیا پوه کړي. په مقابل کي د پاکستان دریځ ډېر څرګند او د پوهېدلو وړ وو. د هغوی دریځ، د عصري سیاسي واقعیتونو، پر ساده، سپینو او قانوني اصولو ولاړ وو. د دې ترڅنګ د متحده ایالاتو په خوا کي، په هغه وخت کي، ډلس ولاړ وو چي ټوله علاقه یې د تړونونو له جوړولو سره وه او لګیا وو چي پاکستان د سینټو او سیټو په تړونونو، یا د شمال قوس، کي شامل کړي، چي د شوروي اتحاد په مقابل کي یو دفاعي تړون وو. په دغه راز وضع کي واشنګټن دې ته نه حاضرېدی چي پر پاکستان باندي فشار واچوي او هغه ته دې ته مجبور کړي چي په خپله سرزوري کي تغییر راولي او یا پر افغانستان باندي د اقتصادي بندزیونو په اړه خپل دریځ نرم کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

متحده ایالاتو افغانستان ته د ساړه جنګ له عینکو څخه کتل مګر په دې پوه نه سول چې د پښتونستان د مسلې او له هغې څخه د شوروي اتحاد د ګټې اخیستلو ترمنځ ارتباط پیدا کړي. په هر صورت واشنګټن د وخته فیصله کړې وه چې افغانستان د امریکا د امنیتی ګټو لپاره مهم نه دی. افغانستان یو وروسته پاته هیواد دی مګر افغانستان ډېر ښه مغزونه او احساسات لري. که یې منورین دي او که یې بزګر او قبایلي خلک دي دا استعداد لري چې د مقابل لوري د صداقت اندازه ځانته معلومه کړي. دوی له پاکستان سره د امریکا په ستونزه پوه سول او په غریزه وپوهېدل چې امریکا له هغې موضوع سره چې دوی ته بې اندازې زیات اهمیت لري چنداني علاقه نه لري. له دغه ډول درک سره، دوی نه سوای کولای چې امریکا ته د بېطرف منځګړي په سترګه وګوري.
که څه هم چې د امریکا مستقیمه مداخله اغېزمنه نه وه خو په غیر مستقیمه توګه یې د نورو منځګړو په تشویقولو او د پروګرامونو په جوړولو کې ډېره زیاته برخه درلوده. دغه اختلاف پخپله د امریکا او افغانانو زړونه سره لیري کړل او د دوستی چینه یې وچه کړه. تر دې یې لا ډېر تاوان دا ورساوه چې د شوروي او افغانستان په اړیکو کې یې اغېزه وښندله.

روسانو د ستونزې تېرایستونکی او غلط علاج وړاندي کړ

د پښتونستان په مسله کې د شوروي فعاله مداخله، په ۱۹۵۳ کال کې، د داوود خان له صدراعظم کېدلو سره، پیل سوه. داوود خان، چې فعال پښتون نېشلیسټ وو، د افغانستان یوکولو او عصري کولو ته یې ټینګه ملا تړلې وه. ده غوښتل چې د خپلو دغو هدفونو لپاره د پښتون نېشلنیزم څخه د محرکې قوې په حیث کار واخلي. په نتیجه کې ډېر ژر د پاکستان سره په ژوره لانجه کې را ګیر سو.
دا یو داسې فرصت وو چې شوروي اتحاد له ډېرې مودې راهیسې ورته منتظر وو. شوروي اتحاد، په ډېر مهارت، د پاکستان په مقابل کې، د افغانستان له کمزورۍ څخه ګټه واخیستله. داوود خان له متحده ایالاتو څخه نه اقتصادي مرستې تر لاسه کړې او نه یې له پاکستان سره د خپل هیواد د انډول برابرولو لپاره پوځي مرستې ورسره وکړې. شوروي اتحاد د دواړو مرستو پېشنهاد ورته وکړ او داوود خان یې په دام کې ولوېدی.
په ۱۹۵۵ کال کې د بیرغ له پېښې او په نتیجه کې د پاکستان له خوا د افغانستان د اقتصادي محاصرې له پیل کېدلو سره سمدستي، شوروي اتحاد پېشنهاد وکړ چې د خرابېدونکو مېوو حاصلات به یې، چې د افغانستان د صادراتو عمده برخه وه، په الوتکو کې ورته انتقال کړي. شوروي اتحاد دغه راز افغانستان ته په خپله خاوره کې یوه ټرانزیټي لار په ډېرو اسانو شرایطو پېشنهاد کړه. د ۱۹۵۵ کال د ډسمبر په میاشت کې خروسچیف او بولګانین افغانستان ته سفر وکړ او د سلو میلیونو ډالرو اقتصادي مرستي وړاندیز یې وکړ. د شوروي مشرانو دغه راز په عامه د افغانستان د پښتونستان د داعیې ملاتړ وکړ. دوی دغه راز یو پټ پېشنهاد هم وکړ او ژمنه یې وکړه چې د افغانستان پوځ به په بشپړه توګه په عصري وسلو مجهز کړي. افغانانو، چې د پښتونستان مسلې مجبور کړي ول، دغه زهر وچښل او فکر یې کاوه چې دا له پاکستان سره د دوی د ستونزې علاج دی. لویې جرګې هم دا مرسته منظوره کړه او د افغانستان هغه پالیسي چې تل به یې خارجي قوتونه لیري ساتل د دوی پر سر ورماته سوه او د شوروي اتحاد ډېرې زیاتې اقتصادي او پوځي مرستې یې ومنلې.
دا یوه مرګانی اشتباه وه. دغه اشتباه بالاخره، ګام په ګام او کرار کرار د شوروي اتحاد پوځي یرغل ته ورسېده. د شوروي له پوځي مرستو سره شوروي مشاورین ملګري ول او افغان صاحب منصبان په شوروي کې وروزل سول. شورویانو وکړای سول چې د افغانستان په پوځ کی خپل ورانکاري داخل کړي. د لویو اقتصادي پروژو له لارې یې سیاسي نفوذ ترلاسه کړ او په افغانستان کې یې یو وړوکی کمونیسټ ګوند جوړ کړ. د شوروي د مرستو پروژو په افغانستان کې لوژیستیکي زیربنا برابره کړه. سړکونه، پلونه، تونلونه، د غلو دانو او تېلو زخیرې، روغتونونه، نانوایي ګانې دا ټول هغه شیان وه چې شورویانو په خپل یرغل کې کار ورڅخه واخیست.
د پښتونستان له مسلې څخه د شوروي ملاتړ هغوی ته په افغانستان کې سیاسي نفوذ ور په برخه کړ اود امریکا هغه کوښښونه یې بې نتیجې کړل چې د افغانستان د خپلواکۍ لپاره ضروري انډول د برابرولو په منظور یې کول. له پاکستان سره هر را پیدا کېدونکي بحران په افغانستان کې د شوروي منګولي ټینګولې. په ۱۹۵۵ او ۱۹۶۱ کلونو کې، چې پاکستان اوافغانستان د جنګ درشل ته سره ورسېدل، شورویانو په ډېر فعاله توګه داسې کوښښونه وکړل چې د پاکستان پر اقتصادي محاصرې باندي برې ترلاسه کړي او افغانستان ته یې د اقتصادي او پوځي مرستو پېشنهاد وکړ.
کله چې حساس وخت را ورسېدی نو شورویانو د افغانستان په پوځ کې خپلې کمونیستي هستې، چې د دوی شته مني وه، درلودلې او د ۱۹۷۸ کال په کمونیستي کودتا کې یې کار ورڅخه واخیست. په ورپسې کال کې، چې په کابل کې له کمونیستانو څخه ناراض سول، پر افغانستان باندي یې یرغل وکړ او د خپلې خوښې کمونیستان یې قدرت ته ورسول. مخکې له هغه چې شورویان یو تن عسکر افغانستان ته ولیږي په هغه هیواد کې یې بشپړ قدرت درلود او ټول ځایونه یې په کنټرول کې وه. دا د پښتونستان جنجال وو چې شورویانو ته یې په تنسته کې خوړند تار په لاس ورکړ او هغوی د افغانستان د خپلواکۍ د له منځه وړلو لپاره راکش کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له هغه راهیسي دې جنجال نوی رنګ اخیستی دی. شوروي‌انو پر افغانستان باندي د یرغل په لومړیو کلونو کي د پښتونستان په مسله کي د افغانانو ملاتړ کم کړ. خو کله چې د افغانانو مقاومت د جهاد شکل واخیست او وروسته د ملي آزادی په غورځنګ تبدیل سو نو شوروي‌ان متوجه سول چې د مقاومت د تقویه کولو اساسي ځای په پاکستان کي کمپونه دي او مقاومت ته له هغه ځایه مرستي رسیږي. شوروي‌انو د دغو مرکزونو اوکمپونو د کمزوره کولو لپاره په قبایلي سیمو کي د ښورښونو د پیدا کولو او په پښتنو کي د خپلواکی د اخیستلو د روحیې د ژوندئ کولو کوښښونه پیل کړل. پښتانه قبایل په تاریخي لحاظ یوه دفاعي کرښه ده او دوی پوهیږي چې څرنګه د دښمنو قوتونو په منځ کي د دې کرښي څخه کار واخلي. دوی له هر طرف څخه پیسې اخلي مګر یوه خوا یې هم نه سي رانیولای.
د پاکستان چپي ګوندونو، لکه د خان عبدالولي خان ملي ډیمکراتیک ګوند NDP او په شمال لوېدیځ ایالت کي د پاکستان ملي ګوند PNP چې په بلوچستان کي یې د غوث بخش بیزنجو تر مشری لاندي فعالیت کاوه په افغانستان کي د کمونیستې ګوند ملاتړ وکړ او د جمهوررئیس ضیاءالحق د دې پالیسی سره یې مخالفت وکړ چې د کابل له حکومت سره یې خبري نه کولې. په ۱۹۸۶ کال کي چې ضیاءالحق، د آزادو انتخاباتو په شول، ملکي حکومت ته د واک د سپارلو پروګرام پیل کړنو ځینو چپی ګوندونو د ضیاءالحق د لیري کولو لپاره یو ایتلاف جوړ کړ. ولي، بیزنجو او نور چپی سیاسي مشران په دې عقیده وه چې ضیاء غواړي په دې وسیله پر پاکستان باندي د شوروي غوسه راکمه کړي او دوی ادعا کوله چې که هر وخت شوروي اتحاد پر پاکستان باندي حمله وکړه متحده ایاالات به یې ژغورني ته رانه سي. له افغانستان څخه د پاکستان پر خاوره باندي د شوروي‌انو حملو او په شمال لوېدیځه صوبه کي ترورئیستي حملو د چپی مشرانو دا عقیده نوره هم تقویه کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ